# په کور کې د GESOBAU سره

## ژوند اسانول

Hier wohnt Berlin.

GESOBAU





Paschtu

# GESOBAU ته
# ښه راغلاست

تاسې اوس خپل فلېټ ترلاسه کړ یا په دې وروستیو کې
انتقال شوئ: دا مختصر لارښود به ستاسې سره د هغه پوښتنو په ځوابونو کې
مرسته وکړي چې تاسې یې لرئ، تاسې به د خپل کرایه دارۍ د تړون، انتقال او
کورني مقرراتو په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

ستاسې GESOBAU



١ زما نوی کور ........................................................ پاڼه. ٤

٢ د انتقالیدو لپاره متخصر چیک لیست ..................... پاڼه. ٨

٣ کورني مقررات .................................................. پاڼه. ١٠

٤ د کرایه دارۍ په اړه پوښتني .............................. پاڼه. ١٤

٥ د کرایه دارۍ ABCs ............................................. پاڼه. ١٦

٦ د GESOBAU سره اړیکه نیول ........................... پاڼه. ٢٠

# ۱

## زما نوی کور

ما داسې وکړلو او ژر به نويي فلېټ ته انتقال شم. خو لومړی باید یو ځو کارونه وکړم.



## د کرایه دارۍ تړون

زه د کرایه دارۍ تړون لاسلیک کولو ته اړتیا لرم. دا عموماً په مرکزي GESOBAU کې په Berlin-Pankow کې ترسره کیږي.  زما د جایداد څښتن به ما ته زنګ ووهي چې د دې لپاره نیټه وټاکي. د لاسلیک کولو لپاره به ټولې خواوې موجودې وي.

دپه ځانګړي مورداتو کې، اجاره په پوسته استول کیدی شي. دلته هم، د تړون ټولې خواوې به حتماً تړون لاسلیک کوي.

## د کرایه دارۍ په تړون کې لاندې معلومات شامل دي

- د اساسي (خالص) کرایې سربېره، به زه یوټیلیټي بلونه او د خدمت لګښتونه ادا کوم (لکه، د تودوخې او ګرمو اوبو لګښتونه).
- کرایه باید په خپل ټاکلي وخت تېوله ادا کړل شي داسې چې د میاشتې د کاري ورځې څخه په دریو ورځو کې دننه ورکړل شي.
- زه به GESOBAU ته اجازه ورکوم چې د بانک د اکاونټ څخه زما کرایه ترلاسه کړي. د SEPA ډایریکټ ډیبېټ مینډېټ په صادرولو سره زه دا یقیني کوم چې کرایه تل په خپل وخت ادا کړل شي.
- زه به اړتیا لرم چې د خپل فلېټ لپاره سکیورټي ادا کړم. زه به دا د انتقالیدو مخکې ادا کوم. زما د سکیورټۍ پیسې هغه وخت واپس ادا کیږي چې کله زه کور پرېږدم او په دې کې څه مات شوي نه وي. پاتې پیسې به هم و کتل شي. زه د سکیورټي پیسې په دریو قسطونو کې ادا کولی شم. لومړی قسط د کرایه دارۍ په پیل کې ورکول وي.
- زه په خپل فلېټ کې څه بدلونونه نه شم کولی. که زه څه ترمیمول غواړم، نو باید له مخه خپل د جایداد څښتن څخه غوښتنه وکړم.
- د خبرتیا موده درې میاشتې ده. خبرتیا باید په لیکلي بڼه د میاشتې په اخره کې ورکړل شي. د جایداد څښتن به د تړون فسخ کیدل تصدیق کړي.

## د فلېټ سپارنه

- زما د جایداد څښتن به د فلېټ د سپارنې لپاره وخت وټاکي.
- د دغه سپارنې پرمهال به زه خپلې کلیګانې ترلاسه کړم.
- د فلېټ سپارنې په جریان کې راپور چمتو کېږي: هر شی باید په ترتیب وي. زه به خپل فلېټ وګورم او زما د کور څښتن به هر هغه څه نوټ کړي چې مهم وي. د مثال په توګه، کړکۍ، دروازې او فرشونه پاک دي او زیانمن شوي نه دي.
  دیوالونه عموماً رنګ کړی شوي وي. په دغه راپور کې به د میټر اوسنی ریډنګ واخیستل شي.
- په دغه راپور کې به دا هم ذکر شي چې ما څومره کلیګانې ترلاسه کړې.
- د کور څښتن او زه به د سپارنې دغه راپور لاسلیک کړو او زه به د خپل ریکارډ نقل ترلاسه کړم. د سپارنې پر مهال زه د ځان سره څوک د مرستې لپاره راوستلی شم. لکه، د ترجمې لپاره.

# ۲

# د انتقالیدو لپاره مختصر چیک لیست

نوی فلېټ په زړه پوري کیدی شي. په دې کې ځه هیریدل اسان وي. دا چیک لیست به درسره مرسته کوي!



## راجستر کېدل او نوی ادرس

زه باید په دوو اوونیو کې دننه د استوګنې اړوند راجسترېشن د دفتر سره خپل نوی ادرس راجستر کړم. زه به د دې لپاره له GESOBAU څخه سند ترلاسه کړم.

## د برېښنا او ګاز مېټرونه راجستر کړئ

زه به برېښنا (که د تطبیق وړ وي نو د ګاز او اوبو) په خپل نوم د خپل خوښې د خدمت سره راجستر کړم. د دې لپاره به زه مېټر ریډنګ استعمالووم، کوم چې به زه د خپل جایداد د خښتن سره په ګډه د سپارنې پر مهال لولم او هغه د سپارنې په راپور کې ریکارډ شوی وي.

## «RUNDFUNKBEITRAG» ادا کول

هر اوسیدونکی به د ټي او راډیو د لیسنس فیس چې «Rundfunkbeitrag» بلل کیږي، ادا کوي. ځینې کسانو ته استثنا ورکول کیدی شي، لکه، د جاب سنټر (جاب سنټر) څخه په تصدیق نامې ترلاسه کولو. په دې هکله نور معلومات دلته ورکړل شوي دي: www.rundfunkbeitrag.de

## په ادرس کې بدلون

زه به خپل بانک، د بیمې شرکتونو، خپل مستخدم، ښوونځي/ډې کیر سنټر، زما کورنۍ او ملګرو ته د خپل نوي ادرس خبر ورکړم.
زه به پوسته خانې ته د خپل پوست د غوښتنې لپاره درخواست وکړم. دا په دې معنی چې زما نوی ډاک به نوي ادرس ته راستول کیږي حتی که په لیک باندې زوړ ادرس ورکړل شوی وي، داسې به د څو میاشتو لپاره کیږي.

## بیمه اخیستل

د کرایه دارانو لپاره د بیمې تر ټولو مهمې پالیسۍ دي:

### د تاوان بیمه

دا بیمه هغه وخت زیاته ګټه وره ده که چیرې زه په تصادفي توګه څه شی مات کړم. دا په هغه زیانونو کې مرسته کوي چې زما له خوا نورو ته رسیدلې وي. د مثال په توګه، که زه د لامبلو نلکي ولګوم او بندول یې هیر کړم. زما په فلیټ کې به اوبه جمع شي. او دغه شان زما د ګاونډیانو په فلیټونو کې هم. دا ډېر ګران کیدی شي.

### د محتویاتو بیمه

د محتویاتو بیمه زما په فلیټ او بېسمینټ کې هر شی بیمه کوي. که زه د کور نه بهر یم او څوک راشي او زما شیان پټ کړي، د محتویاتو بیمه په دې حالت کې مرسته کوي.

# ۳

## د کور مقررات

زما اجاره د کورني مقرراتو سره راځي.
دا هغه وخت مهمه وي کله چې په داسې یوه ودانۍ کې اوسیږئ
چې بیلا بیل کسان په کې ژوند کوي: زاړه او ځوانان کسان، د بیلابیلو
هیوادونو خلک، کورنۍ سره له ماشومانو، جوړې، زده کوونکي یا هغه
کرایه داران چې کورني ځاوري لري.



## میلمانه

- ما ته کور ته د میلمنو راوستلو اجازه شته. دا په یاد ساتل مهم دي چې زما میلمه هم کورني مقررات تعقیبوي.
- که زما میلمه زما سره له شپږو اوونیو څخه زیات وخت تیروي، زه به د خپل جایداد څښتن ته خبر ورکوم.
- که زه د اوږدې مودې لپاره بل کرایه دار یا د فلیټ ملګری غوارم، نو باید د خپل کور د څښتن څخه له مخه اجازه ترلاسه کړم.



## پارټۍ

- که زه پارټي کول غوارم، لکه، د زیږون یا د کور د هرکلي پارټي، زه به په ودانۍ نوټس ولګوم څو خپل ګاونډیان له دې څخه خبر کړم.
- زه به خپلو میلمنو ته وایم چې پام کوي څو نور خلک په تکلیف کې نه شي.

## تلویزیون

- زه له GESOBAU څخه څه ځانګړې انتنو ته اړتیا نه لرم. ما ته د سېټېلایټ ډش د لګولو اجازه نشته.
- په زیاتره مواردو کې، GESOBAU له مخه په فلېټ کې کنیکسیون لګولی وي. زه د خپل اکاونټ مینجر نه د GESOBAU د قراردادي ملګرو پوښتنه کولی شم.

## د هوا بدلون او تودوښه

د فلیټ څخه باید زیاتره هوا تل تصفیه یا بدله کړل شي ګنې نو ګندګي تري جوړیدی شي. د پخلي، شاور اخیستلو او لامبلو په وخت په هوا کې نمي پیدا کیږي.

ځیني مختصر مقررات:

- زه به د ورځې له دوو څخه تر څلورو ځلو پورې کړکۍ په بشپړ ډول خلاصوم.
- کله چې زه په خونه کې هوا بدله یا تصفیه کړم، زه به تودوخه بنده کړم.
- زه به خوني په مناسب او ورته ډول تودوم.
- د اوسیدو د خوني لپاره غوره ټمپرېچر له ۲۰ څخه تر ۲۱ ډګري سلسیس پورې دی او دالانونو، ویده کیدو د خونو او پخلنځیو لپاره له ۱۸ څخه تر ۱۹ ډګري سلسیس پورې دی.





## خځلې یا فضله مواد

زما خځله به د فاضلداني په سیمه کې صحیح فاضلدانو ته ځي. دا به د فاضلدانو په خواو شا یا فرش نه غورځول کیږي. ما ته دا اجازه هم نشته چې خځله په ټایلټ یا د مینځلو په تغاره کې واچوم. دا مهمه ده چې خځله بیله کړل شي څو سرچینې او چاپیریال خوندي وساتل شي.

دا په دې معنی:

- کاغذونه به نیلي رنګ فاضلداني ته اچول کیږي.
- د خوراک فضله مواد به د خوراکي شیانو نسواري رنګ فاضلداني ته اچول کیږي.
- بیا په کار راویستونکي شیان، لکه پلاسټک به زیړې فاضلداني ته اچول کیږي.
- نورې خځلې به تور رنګ فاضلداني ته اچول کیږي.
- ښیښه به د ښیښې لوښي ته اچول کیږي.
- زه به جمع شوي خځله او کړوونکي مواد د BSR په ري سایکلنګ سنټر کې (BSR-Recyclinghof) تنظیموم.

د خځلو د جلا کولو په هکله نور معلومات د کرایه دارۍ په کتابچه کې موندل کیدی شي.

## خاموش ساعتونه:

ځینې داسې وختونه وي چې تاسې ته په کې د شور کولو اجازه نه وي، هغه که تاسې په فلېټ، کوریډور یا انګړ کې یاست:

- هره ورځ د ۱۳٫۰۰ او ۱۵٫۰۰ بجو تر منځه او د ۲۰٫۰۰ او ۰۷٫۰۰ بجو ترمنځه د خاموشۍ وخت وي.
- د یکشنبې په ورځو او په دولتي رخصتیو خاموشي ساتل په ځانګړې توګه مهمه ده.

په دې وختونو کې، زه به د خپلې موسیقۍ او تلویزیون غږ ټیټ ساتم او واشنګ مشین یا ویکیوم کلینر به نه استعمالوم.

## د شریکې د کور فسخ کیدل/جلا کیدل/ بیلیدل

- که زه د چا سره اوسیږم یا د شریکې په فلېټ کې اوسیږم، د فلېټ ټول اوسیدونکې به د اجاره دارۍ ترون لاسلیک کوي.
- که یو تن ځای پرېښودل غواړي، زه به GESOBAU ته د دغه پرېکړې په اړه خبر ورکوم. هر هغه څوک چې د اجاره دارۍ ترون یې لاسلیک کړی وي، هغه به د فلېټ لپاره مسؤل ګڼل کیږي.



## خوندیتوب

زه به خوندیتوب ته پام کوم. دا په دې معنی:

- زه به په کوریدور کې شیان نه پریږدم. زینې د وتلو لارې وي. په ایمرجنسی کې هر یو تن باید دا بې له کوم خنډ څخه ا ستعمالوي.
- زه به اور اخیستونکي شیان، لکه ګاز یا په بېسمنټ کې تیل نه ساتم.
- د کورني مقرراتو له مخې، په بالکونی، تیراسونو یا په ضمیمه بالکونیو د باربې کیو اجازه نشته. د دې بوی نور کرایه داران تنګولی شي او باربې کیوز د اور خطر زیاتولی شي.

که څه مات شي، نو زه به د هغې خبر ورکوم GESOBAU د اپپ له لارې «GESOBAU Berlin» یا د پراپرټی د مینجر په واسطه.

## کورني څاروي

ما ته اجازه شته چې په خپل فلېټ کې کورن څاروی وساتم. مخکې له دې چې زه څاروی ترلاسه کړم یا د کورني څاروي سره کور ته انتقال شم، زه به له GESOBAU څخه پوښتنه کوم چې د کورني څاروو لپاره مقررات څه دي.

ما ته باید کوم معلومات وي:

- که زه د سپي سره انتقالیږم، زه به د خپل جایداد د ښتن لیکل شوي تصویب ته اړتیا لرم. زه به د خپل جایداد څښتن ته لاندې معلومات ورکوم: توکم، نوم، د زیږون نیټه، مایکرو چیپ نمبر، د سایز معلومات او د څاروي عکس.

زه به د خپل غوښتنلیک سره لاندې اسناد شاملوم.

- د سپي د مالکانو لپاره د مسؤلیت د بیمې د ثبوت نقل
- د مالیې د دفتر د راجسترېشن نقل (د مالیې نمبر)

سپو ته باید په ټول وختونو کې د GESOBAU په ملکیت کې پټه اچول شوې وي. که زه یو کورنی څاروی لرم، زه د هغه د صفایی او ښه چلند مسؤلیت مسؤل یم.



# ٤

# د کرایې په اړه پوښتنې

ځینې انګازې موجودیت لري.
دلته مورږ ځینې عمومي ورکړې دي.



**د کور ښښتن دویمه کلي لري.**
**نه.** مغوی کلي نه لري او زما فلېټ ته یوازې یا پرته له خبرتیا نه شي داخلیدی.

**زیني زما د فلېټ برخه ده.**
**نه.** زینې عمومي برخه ده ځکه چې ټول اوسیدونکي دا استعمالوي. زه به د عمومي سیمو خیال ساتم.

**د اجاره دارۍ تړون فسخ کیدی شي.**
**نه.** ما ته به ځانګړې خبرتیا راکول کیږي. د ځای پرېښودو نه مخکې به زه ضرور د خبرتیا د مودې د ختمیدلو انتظار کوم.

**کرایه دار کولای شي چې بل کرایه دار خوښ کړي.**
**نه.** زه د هغه تن سپارښت کولی شم چې په GESOBAU کې زما په فلېټ کې علاقه مندي لري. GESOBAU پخپله کرایه دار انتخابوي.

**کله چې زه ځای پرېږدم، زه به بیا کرایه یا یوټیلېټیز او د خدمت لګښتونه نه ادا کوم.**
**نه.** زه به د اجاره دارۍ د تړون د ختمیدو پورې د لګښتونو ادا کولو مسؤل یم. د هغه ملکیت یوټیلیټي بل چې ما د تیر شوي ښښتن څخه په کرایه ترلاسه کړی و، به زما نوي ادرس ته راستول کیږي.

**که د جایداد ښښتن له څه پیسې ورکړم، زه به نوی فلېټ ژر ترلاسه کړم.**
**نه.** دا د رشوت ورکولو هڅه ده او د قانون څخه سرغړونه ده. موږ د داسې سرغړونو راپور ورکوو. او موږ کمېشن نه اخلو، دا په دې معنی چې کرایه دار به د ایجنټ فیس نه ادا کوي.

# ۵

## د کرایه داری ABCs



ا

**APP**
**اېپ**

اېپ «GESOBAU Berlin» کرایه دارانو ته دا اساني پیدا کوي چې د GESOBAU سره اړیکه ټینګه کړي او د زیان راپور وکړي یا څه پوښتنې وکړي. کرایه داران کولای شي چې د تودوخې او اوبو خپل اوسنی میټر ریډنګ وګوري.

**KALTMIETE**
**اساسی (خالص) کرایه**

اساسي کرایه - چې خالص کرایه هم بلل کیږي - زما د فلېټ د سایز او موقعیت پورې تړاو لري او د هغه کال پورې چې دا ودانۍ په کې جوړه شوې وي. په دې کې څه ← **اضافي لګښتونه** شامل نه وي (یوټېلیټیز او د خدمت لګښتونه) (← **ټوله کرایه**).

**NEBENKOSTEN**
**اضافي لګښتونه (یوټېلیټیز او د خدمت لګښتونه)**

اضافي لګښتونه هغه لګښتونه وي چې GESOBAU یې د ملکیت د تنظیمولو لپاره لګوي. د اضافي لګښتونو ۱۷ ډولونه دي (یوټېلیټیز او د خدمت لګښتونه)، خالص او ټول دواړه. په دې کې تودوخه او د ګرمو اوبو لګښتونه، د فضله موادو له منځه وړل یا د کور صفايي شامل دي. په ټول اضافي لګښتونو (یوټېلیټیز او د خدمت لګښتونه) د کرایه دارۍ په تړون کې موافقه کیږي.

**KUNDENBETREUER*IN**
**اکاونټ مینجر**

که زه د خپلې ← **کرایه دارۍ** یا د کورنۍ مقرراتو په هکله څه پوښتنې لرم، زه کولای شم چې د اېپ، اي مېل، پوستې یا تلیفون له لارې د اکاونټ مینجر سره اړیکه ټینګه کړم. د هغه/هغې د تماس جزیات زما د کرایه دارۍ په تړون یا کورنۍ مقرراتو کې ورکړل شوې وي.

پ

**HAUSMEISTER*INNEN/ OBJEKTBETREUER*INNEN**
**پاملرنه کوونکي/ د ملکیت مینجران**

پاملرنه کوونکي/مینجران بیلا بیل کارونه لري، لکه د اسانتیاو څارنه کول.

ت

**GEMEINSCHAFTS-EINRICHTUNGEN**
**ټولنیزې اسانتیاوې**

د زینې لار، انګړ، د کالو مینځلو خونه، ګاراژ، د ماشومانو د لوبو میدان د ټولو کرایه دارانو د استعمال لپاره ځایونه دي. له دې کبله دا مهمه ده چې د نورو خیال ساتئ، هلته شیان نه جمع کوئ او دغه عمومي سیمې پاکې ساتئ.

**WARMMIETE**
**ټوله کرایه**

ګراس رېنټ هغه ټولې کرایې ته ویل کیږي چې زه یې هره میاشت د خپل فلېټ لپاره ورکوم. په دې کې ← **اساسي کرایه** او ← **اضافي لګښتونه** شامل وي (یوټېلیټیز او د خدمت لګښتونه). اضافي لګښتونه د ناخالص او ټول فعالیتي لګښتونو لپاره د مخکې تادیه شوې وي. په دې کې، د مثال په توګه، د تودوخې لګښتونه او د ګاراژ ساتل شامل وي.

د

## HEIZKOSTEN
## د تودوخې لګښتونه

د تودوخې د لګښتونو بل په کال کې یو ځل راځي. زما د تودوخې په بل کې هغه تادیې شاملې وي چې ما ادا کړې وي او زما د استعمال دقیق حساب په کې هم موجود وي. زه بیا یا خو نورې پیسې ادا کوم یا به کریډیت ترلاسه کوم.

## KAUTION
## د سکیورټي پیسې

هغه پیسې چې د جایداد څښتن ته د سکیورټي لپاره ورکول کیږي. که چیرې زه څه وخت دغه ځای پرېږدم او فلیټ ته مې زیان رسولی وي، نو د ملکیت څښتن کولای شي چې زما د سکیورټي پیسې استعمال کړي او مناسب مقدار ترې پاتې کړي. د سکیورټي پیسې د دریو میاشتو ← **د اساسي (خالص)** کرایه برابر وي.

## WOHNBERECHTIGUNGS-SCHEIN (WBS)
## د سوشل هاؤسنګ د وړتیا تصدیق نامه

WBS یو رسمي تصدیق نامه وي. په دې هکله چې آیا زه د WBS لپاره مستحق یم او کنه، دا زما د عوایدو پورې تړاو لري. د WBS سره زه د سوشل هاؤسنګ مستحق یم. سوشل هاؤسنګ په دولتي فنډونو حمایه کیږي. په دې هکله نور معلومات په www.berlin.de کتلی شئ یا د برلین د تابعیت په د فتر (Bürgeramt) کې.

## SCHÖNHEITSREPARATUREN
## د سینګار ترمیمونه

کله چې کرایه دار ته خبرتیا ورکړل شي، هغه د سینګار ترمیمونه ← **ترسره کوي**. په دې کې وال پیپر لګول او پېنټ ورکول شامل دي. آیا زه مسؤلیت لرم چې کوم ترمیمونه ترسره کړم او کنه او دا چې کوم ترمیمونه به زه ترسره کوم، دا معلومات زما د کرایه دارۍ په تړون کې ورکړل شوي دي. که زه څه پوښتنې لرم، د جایداد د څښتن سره اړیکه نیولی شم.

## MIETVERTRAG
## د کرایه دارۍ تړون

د کرایه دارۍ تړون زما او زما د جایداد د څښتن حقونه او مسؤلیتونه اداره کوي. زه به د کرایه دارۍ تړون د نورو مهمو اسنادو سره د ← خپل **اکاونټ مینجر** څخه ترلاسه کوم. زه به خپل د کرایه دارۍ تړون په خوندي ځای کې ږدم.

## WOHNGELD
## د کور ګټې

په جرمني کې، که ستاسې عواید دومره کم وي چې کرایه نه شئ ادا کولی، نو تاسې به د کور د ګټې ترلاسه کولو مستحق یئ. د کور ګټه ستاسې د کور د لګښتونو لپاره وي. دا هغه ټولنیزه ګټه وي چې د جرمني د هاؤسنګ د ګټو د قانون (Wohngeldgesetz, WoGG) له مخې ورکول کیږي. په دې هکله نور معلومات په service.berlin.de کتلی شئ یا د برلین د تابعیت په د فتر (Bürgeramt) کې.

## KABELANSCHLUSS
## د کېبل کنیکسیون

زما په فلیټ کې براډ بېنډ کنیکسیون موجود دی. PŸUR د GESOBAU او Vodafone Deutschland شبکه وړاندې کوونکو سره تړون لري. هغوی سګنل ورکوي. دا په فعالیتي لګښتونو کې شامل وي. زه ګڼ شمیر چینلونه حتی له بهر څخه ترلاسه کولی شم.

## KÜNDIGUNGSSCHUTZ
## د ویستنې پرضد خوندیتوب

د جایداد څښتن پرته له کوم علت څخه د کرایه دارۍ تړون نه شي فسخ کولی. البته، د مثال په توګه، که چیرې کرایه نه وي ادا کړې شوې، نو د ملکیت څښتن د کرایه دارۍ تړون فسخ کولی شي. یا کله چې کورني مقررات نه وي تعقیب شوي چې له امله یې د نورو کرایه دارانو په سوکالۍ کې د پام وړ ګډوډي رامنځته کړې وي.

## س

### DAUERAUFTRAG
### سټېنډنګ آرډر

سټېنډنګ آرډر د پيسو عادي او اتومات انتقال ته ويل کيږي. زه دا د هرې مياشتې د کرايه ادا کولو لپاره استعمالولی شم او اړتيا نه لرم چې د پيسو ليږلو لپاره بانک ته لاړ شم. سټېنډنګ آرډر يا مستقيم ډېبيټ تصويب (← **مستقيم ډېبيټ د کرايې** لپاره ا ستعماليدی شي.) لطفاً په ياد ساتئ: بايد په اکاونټ کې مناسب پيسې موجودې وي.

## ف

### KÜNDIGUNG
### فسخ کول

که زه دا ځای پرېښودل غواړم، زه بايد په ليکلي بڼه خبرتيا ورکړم. د خبرتيا موده د مودې درې کليندري مياشتې ده. يوازې وروسته له هغې د کرايه داری تړون فسخ کيدی شي. که زه يوازې نه اوسيږم، د کرايه داری ټولې خواوې به د فسخ کيدو خبرتيا لاسليک کوي. ګنې نو دا به باوري نه ګڼل کيږي.

## م

### LASTSCHRIFTVERFAHREN
### مستقيم ډېبيټ

دې پروسې ته SEPA مېنډېټ ويل کيږي. SEPA مېنډېټ GESOBAU ته فرصت ورکوي چې زما د بانک د اکاونټ څخه د کرايه پيسې ترلاسه کړي. زه بايد د هيڅ شي په هکله انديښنه ونه کړم او که زما په اکاونټ کې مناسب پيسې موجودې وي نو کرايه تل په وخت ادا کيږي. په دې سره د پاتې شوي پيسو يادونې هم نه راځي.

# ٦

# په GESOBAU کې زما تماس



## د «GESOBAU BERLIN» اپپ

زه دا وړیا اپپ د دې لپاره استعمالولی شم چې د ورځې هر وخت د څه زیان راپور ورکړم، د تودوخې او بریښنا لپاره خپل میټر ریډنګ وګورم او د خپلې کرایه دارۍ په اړه نور معلومات وګورم.
په Google Play Store کې یې د App Store څخه ډاونلوډ کړئ.

## ٤ ساعته هاټ لائن

دا وړیا هاټ لاین هره ورځ ټول وختونه په (۰۳۰) ۴۰۷۳-۰ موجود وي. زه د خپل اکاونټ مینجر سره مستقیماً د دوشنبې نه تر پنجشنبې پورې سهار د ۹ بجو نه تر ماښام ۵ بجو پورې او د جمعې په ورځ سهار د ۹ نه ماسپښین د ۲ بجو پورې اړیکه ټینګولی شم.




### ادرس

GESOBAU AG
Stiftsweg 1
13187 Berlin (برلین)

# زما یادداښتونه

# معلومات خپرول

**خپروونکی:**
GESOBAU AG, Stiftsweg 1
13187 Berlin
www.gesobau.de

**د پروژې تنظيم:**
Jasmin Hollatz (د مطبوعاتي قانون له مخې مسؤل)
Birte Jessen (د کارپورېټ کمونيکېشنز رئيسه)

**متن:**
GESOBAU AG

**ډيزاين، نخشه او ټايپينګ برابرول:**
Studio GOOD, Berlin

**چاپ:**
Ruksaldruck GmbH, Berlin

**د عکس کريډيټونه:**
Studio GOOD (عکسونه)


www.gesobau.de